مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۳/۰۸/۰۶

# د دین تر نامه لاندې پر واک باندې جګړې

## په دې اړه لا هم څوک د «ولې؟» پوښتنه راپورته کولای نه شي.

د «جمل» جګړه د پاک استازي د کورنۍ د غړیو او اصحابو ترمنځ وشوه. دا د مسلمانانو تر منځ لومړنۍ جګړه وه. جزیاتو ته یې نه ځو.

«صفین» جګړه د واک و ځواک پر سر بله جګړه وه، چې په یوه روایت اویا زره تنه (ټول مسلمانان او ګڼ یې صحابه) په کې ووژل شول. ویل کیږي، په دې دواړو جګړو کې یوازې د قرآن عظیم پینځلس زره حافظان ووژل شول.

د دې جګړو په اړه د (ولې؟) پوښتنه «تابو» او «ممنوع» شوه.

موږ ټول وژونکي او وژل شوي په درنو القابو (رضوان الله تعالی علیهم جمیعا) یادوو.

دا د عربو د تاریخ یو فصل دی، ښایي ډېر به فکر کوي، چې نو زموږ یې اوس پرې څه؟

بله خبره دا ده، چې د دې جګړو په اړه د «ولې؟» فکر لرونکي ځکه ترې چوپه خوله تېر شوي، چې له تکفیر څخه ډارېدل. په تېرو څوارلسو پېړیو کې دغه ډار څلور منفي پایلې او انګېرنې بنسټي کړې:

۱ ــ مسلمانان کولای شي د واک او شتمنیو راخپلولو لپاره پرېمانه یو بل ووژني، خو په دې اړه به پوښتنې و خبرې نه کوي.

۲ ــ که څوک په دې اړه څه ووایي، تکفیرېږي.

۳ ــ ګواکې له دیني پلوه واک په توره او وینه بهوونه راخپلېږي، کوم بل معیار نه شته، هرچا چې ډېر خلک وژلای شول، هغه واکمن دی. د واک مشروعیت روسته د توري او وېرې خپرولو له لارې ورخپلولای شي.

۴ ــ په دې اړه هیڅکله د ټولنپوهنې، اقتصاد، سیاستپوهنې، تاریخ او نورو ټولنیزو پوهنو پربنسټ بحث کېدلای نه شي. د دې پېښو په اړه عقلانیت ته اجازه نه شته او هر راز پوښتنه په عامه ذهنیت کې له کفر سره مترادفه ده.

د واک پر سر جګړې د تاریخ یو تکرارېدونکی دود دی، خو د یوه دین په نامه د همدې دین د پلویانو مبهمې او ناڅرګندې یوبل‌وژنې، هغه هم په یویشتمه پېړۍ کې هېڅ عادي نه دي.

یویشتمه پېړۍ مو یاده کړه .عربان د تېلو خاوندان شول، اقتصاد لوړ شو، لوړ اقتصاد شعور هم لوړ کړ. مړې ګېډې عقلانیت ته مخه کړه. د بډایي عربي نړۍ هېوادونو بیا هیڅکله د واک و ځواک پرسر جګړې ونه کړې. سعودي، قطر، اماراتو، کویټ او ان مصر و یو شمېر نورو هېوادونو هم ځانونه د عقلانیت دغه برید ته ورسول. اندونیزیا و مالیزیا و سینګاپور تر مالدیف پورې یې همداسې درونیسه.

د دین تر نامه لاندې پر واک جګړې او مسلمانوژنې پاتې شوې او روسته پاتې و بېوزله هېوادونه لکه افغانستان، سوډان، پاکیستان او ځینې افریقایي ولسونه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عراق و افغانستان دوه بالقوه بډای هېوادونه وو، چې له خپلو زېرمو څخه يې د ملي شعور په لوړونه کې ګټه پورته نه کړلای شوه او پاکیستان، چې انګریز د لوبو لپاره جوړ کړی و، تر ننه لا هم لوبول کیږي. په باجوړ کې د مسلمان په لاس د مسلمانانو وینې لا وچې نه دي، خو لا هم د «ولې؟» پوښتنه له کفر سره معادل ده.

هغه هېوادونه چې شیخان يې د سرو زرو په ټټیو (کموډونو) کې ځانونه تشوي او هره اونۍ يې پالنګ ته د نړۍ یوه نوې ښکلې پېغله ورخیژي، نه غواړي د دین په نامه پخپله، خپلو کې یو د بل وینې وبهوي.

هغوی دغه دیني (!) مکلفیت بېوزلو او بېشعوره هېوادونو ته ورسپارلی. موږ باید یو بل ووژنو، چې هم دغه تاریخي دود تکرار شي او هم عرب شیخ د وریښمو پر پالنګ ارام خوب وکړي.

د «جمل» و «صفین» و «کربلا» و «امویانو» و «عباسیانو» و «عثمانیانو» و «صفویانو»... خپلمنځي وژنې به موږ ورته تکراروو.

دواړه خواوې به خپل جنګونه جهاد بولي او وژل شوي شهیدان.

تور بیرغونه، سپین او برګ بیرغونه د دوی تاریخي دود د دوی له هېوادونو زرګونه کیلومتره لرې، زموږ پر بېوزله ولسونو کې بیا ــ بیا تکراروي او افغان باید د افغان وینه وبهوي، چې د ټولې نړۍ اسلام ژوندی پاتې شي.

که چا تور بیرغ یا سپین بیرغ ته وویل: چې ولې؟ دواړو د تکفیر توري تیارې له تیکو را ایستلي او وینې ترې څاڅي.

دوی وایي:

هغه څه چې په «جمل» او «صفین» کې راپیل شوي، تر قیامته به يې بېشعوره، ناپوهه او له دین څخه د سیاسي تفسیر افیون ځپلي ملتونه تکراروي.

په دې اړه لا هم څوک د «ولې؟» پوښتنه راپورته کولای نه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ